sussex interpreting services

د 2023 د جون په 26 زموږ د خدماتو کارونکي په ورځ (Service User Day) کې ستاسو له ګډون څخه ډېره مننه کوو.
له تاسو سره مو لیدنه ډېره په زړه پورې وه او ستاسو نظر ډېر ګټور و.
مهرباني وکړئ زموږ د راپور یو لنډیز تر لاسه کړئ.

## SIS د خدماتو کارونکي ورځ

د 2023 د جون په 26 نېټه د دوشنبې په ورځ، SIS په 6 ژبو (عربي، کانټونیز، فارسي، ایټالوي، پښتو، پرتګالي) کې د SIS د خدماتو 33 کارونکو ته، د ځانګړي غرمه ناري پر مهال چمتو شویو مراسمو کې ښه راغلاست ووایه، څو د دوی په لا زیاته پېژندنه، د SIS په اړه د دوی د نظریاتو په اورېدلو، د دوی له اړتیاوو په خبریدلو، او د ټولنو او کلتورونو په اړه معلوماتو شریکولو کې له موږ سره مرسته وکړي.



7 ژبپوهانو د دې خدماتو د کارونکو مرسته کوله، کومو چې د ټولنې د څېړونکي روزنه تر لاسه کړې، فعالیتونو او بحثونو کې یې اسانتیا برابره کړه او لیکلي نظریات یې چمتو کړل.
د دې نظریاتو ارزونې له موږ سره مرسته وکړه چې د SIS په داخل کې د پرمختګونو لپاره ځینې مهمې سپارښتنې په پام کې ونیسو، که هغه د یو نوي او مختلف څه وړاندې کول وي، یا هغه څه ته دوام ورکول وي چې ښه کار کوي.






بنسټیزې پایلې؛

- د خدماتو 80% کارکونکو SIS ته خپله مراجعه کړې وه، په بنسټیز ډول د تلیفون له لارې.
- د خدماتو کارونکو د خپله مراجعې لپاره د رسید غوښتنه کړې وه.
- د SIS د نورو، اضافي خدماتو په اړه پوهه ډېره کمه وه.
- د SIS د ویبپاڼې د ژباړل شویو پاڼو ډېره ستاینه وشوه.
- د IT د پوهې پراخه لړۍ موجوده وه.
- د خدماتو د کارونکو لپاره تر سره کېدونکي سروی باید *"لنډه، دقیقه، زما په ژبه کې وي او زما له اړتیاوو سره تړاو ولري"*.
- د SIS د خدماتو د وړاندې کولو په اړوند ډېر رضایت شته، په ځانګړي ډول د کارکونکو.
- د دې خدماتو کارونکي غواړي چې SIS د خدماتو د پراخه لړۍ لپاره تفسیرونکي خدمات وړاندې کړي.
- SIS زموږ د خدماتو ترویج ښه کولای او وده ورکولای شي.

مهمې سپارښتنې؛

- د خدماتو د کارونکو لپاره زموږ د تبلیغاتي کړنلارې پراختیا ته دوام ورکول
- د خدماتو د خپله مراجعه کونکو کارونکو لپاره باور جوړول
- په BMECP کې د Drop-In خدماتو بیا پیل کولو شونتیا ارزول
- د ټولنیزې روغتیایي مرستې لپاره د زیاتې پانګې لټون او ساتل
- د خدماتو د کارونکو لپاره د اضافي رضایت نظریاتو میکانیزم جوړول
- د SIS د خدماتو وړاندې کونکو ټیمونو تر منځ د ښې همکارۍ پوهه پیدا کول